د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

لوګر پوهنتون

ښوونې او روزنې پوهنځی

## د ښوونې او روزنې پوهنځي

# لارښود کتاب




کال : ۱۴۴۷ - ۱۴۴۸ هـ . ق مطابق ۱۴۰۵ هـ . ش

بسم الله الرحمن الرحيم


FACULTY OF

# لوړو زده کړو وزارت

# لوګر پوهنتون

# ښووني او روزني پوهنځی

## د ښووني او روزني پوهنځي لارښود کتاب

### ۱۴۰۵ هـ. ش مطابق ۱۴۴۸ هـ. ق


د امتیاز خاوند: ښووني او روزني پوهنځی

د چاپ ځای: لوګر ولایت، پل علم ښار

د چاپ کال: ۱۴۰۵ هـ. ش مطابق ۱۴۴۸ هـــ ق

د پوهنځي آدرس: د مامورینو کارته، پل علم ښار، لوګر ولایت


دغه لارښود د فرهنګي او نشراتو کمېټې د غونډو کتاب په (٦) ګڼه پروتوکول او ۲۱ /۱۴۰۵/۵هـ ش مطابق ۲۸ /۲ /۱۴۴۸ هـ ق نېټه او همدارنګه د پوهنځي علمي شورا د غونډوکتاب په (۴ ) ګڼې پروتوکول او ۳۱ / ۵ / ۱۴۰۵ هـ. ش نېټه غونډه کې ثبت او تائید شوی دی.



# لړلیک


د ښوونې او روزنې پوهنځي د رئیس پیغام ........ ۱

سریزه ........ ۲

د ښوونې او رزونې پوهنځي مخینه ........ ۳

لړلید ........ ٤

رسالت ........ ٤

ارزښتونه ........ ٤

اساسي موخې ........ ٥

د ښوونې او رزونې پوهنځي د علمي کادر غړو احصائیه ........ ۷

علمي رتبو پر بنسټ د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي کادر غړو احصائیه..... ۱۱

تحصیلی درجې پر بنسټ د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي کادر غړو احصائیه ........ ۱۲

د ښوونې او روزنې پوهنځي د برحاله محصلانو احصائیه ........ ۱۳

د پوهنځي علمي شورا........ ۱٤

د پوهنځي د علمي شورا د غړو لیست........ ۱٥

د ښوونې او روزنې پوهنځي کمېټې ........ ۱٦

زیربنا ........ ۱۷

اسانتیاوې ........................................ ۱۹

د ښوونې او روزنې پوهنځي ځانګې ........................................ ۲۸

د ریاضي ځانګه ........................................ ۲۹

د ریاضي ځانګې تشکیلاتي جدول ........................................ ۲۹

د ریاضي ځانګې مخینه ........................................ ۲۹

د ریاضي ځانګې لرلید ........................................ ۳۰

د ریاضي ځانګې رسالت........................................ ۳۰

د ریاضي ځانګې فارغو محصلانو لپاره کاري فرصتونه ........................................ ۳۰

د فزیک ځانګه ........................................ ۳۱

د فزیک ځانګې تشکیلاتي جدول........................................ ۳۱

د فزیک ځانګې مخینه........................................ ۳۱

د فزیک ځانګې لرلید ........................................ ۳۲

د فزیک ځانګې رسالت ........................................ ۳۲

د فزیک ځانګې فارغانو لپاره کاري فرصتونه........................................ ۳۲

د کېمیا ځانګه........................................ ۳۳

د کېمیا ځانګې تشکیلاتي جدول ........................................ ۳۳

د کېمیا ځانګې مخینه ........................................ ۳۳

د کېميا څانګې لرليد........................................ ۳٤

د کېميا څانګې رسالت ........................................ ۳٤

د کېميا څانګې فارغانو لپاره کاري فرصتونه ........................................ ۳٤

د بيولوژي څانګه ........................................ ۳۵

د بيولوژي څانګې تشکيلاتي جدول ........................................ ۳۵

د بيولوژي څانګې مخينه ........................................ ۳۵

د بيولوژي څانګې لرليد ........................................ ۳٦

د بيولوژي څانګې رسالت ........................................ ۳٦

د بيولوژي څانګې فارغانو لپاره کاري فرصتونه ........................................ ۳٦

د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې تشکيلاتي جدول ........................................ ۳۷

د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې مخينه ........................................ ۳۷

د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې لرليد ........................................ ۳۸

د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې رسالت........................................ ۳۸

د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې فارغو محصلانو لپاره کاري فرصتونه ......... ۳۸

د انګليسي ژبې او ادبياتو څانګه ........................................ ۳۹

د انګليسي څانګې تشکيلاتي جدول........................................ ۳۹

د انګليسي ژبې او ادبياتو څانګې مخينه........................................ ۳۹

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې لرلید ........................ ۳۹

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې رسالت ........................ ۴۰

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې فارغو محصلانو لپاره کاري فرصتونه ........... ۴۰

د کمپیوټر زده کړې څانګه........................................ ۴۱

د کمپیوتر زده کړی څانګې تشکیلاتي جدول ........................ ۴۱

د کمپیوټر زده کړې څانګې مخینه ................................ ۴۱

د کمپیوټر زده کړې څانګې لرلید.................................. ۴۱

د کمپیوټر زده کړې څانګې رسالت ................................ ۴۲

د کمپیوټر زده کړې څانګې فارغو محصلانو لپاره کاري فرصتونه.............. ۴۲

پایله.......................................................... ۴۳

عمومي انځورونه ............................................... ۴۴

د لابراتوار انځورونه............................................ ۴۵

په تخنیکي ورکشاپ کې ترسره شویو پروژو انځورونه (۱)...................... ۴۶

په تخنیکي ورکشاپ کې ترسره شویو پروژو انځورونه (۲) ..................... ۴۷



# د ښوونې او روزنې پوهنځي د رئیس پیغام

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ، عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ، الَّذِي حَثَّ أُمَّتَهُ عَلَى طَلَبِ الْعِلْمِ، وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ، قال الله تعالى في كتابه الكريم: ﴿يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ﴾ [المجادلة: ١١]. وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، اما بعد: ښوونه او روزنه د هرې ټولنې د علمي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ بنسټ جوړوي. د یوه هېواد د راتلونکي نسل د فکري روزنې، علمي وړتیاوو د لوړولو او د اسلامي ارزښتونو د پیاوړتیا په برخه کې د ښوونکو رول بنسټیز دی. له همدې امله، د ښوونې او روزنې پوهنځی ځان د داسې مسلکي، ژمنو او نوښتګرو ښوونکو د روزنې مسؤل ګڼي چې وکولای شي د هېواد د ښوونې او روزنې د نظام د کیفیت په لوړولو کې اغېزمنه ونډه ولري. د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی هڅه کوي چې د معیاري لوړو زده کړو، علمي څېړنو، مسلکي ظرفیت لوړونې او نوې تعلیمي ټکنالوژۍ له لارې د خپلو محصلانو فکري، علمي او مسلکي وړتیاوې پیاوړې کړي. موږ باور لرو چې د معاصرې ښوونې او روزنې اړتیاوې یوازې د معلوماتو په انتقال نه پوره کېږي؛ بلکې د اسلامي فکر، څېړنیزو مهارتونو، مسلکي اخلاقو او د ستونزو د حل وړتیاوو روزنه هم اړینه ده. دغه لارښود د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي او اداري جوړښت، تحصیلي پروګرامونو، تدریسي څانګو، علمي فعالیتونو او اړوندو خدمتونو په اړه د اړینو معلوماتو د وړاندې کولو په موخه ترتیب شوی دی. هیله ده چې دا لارښود ددې پوهنځي مینوالو لپاره د باور وړ او ګټوره معلوماتي سرچینه وګرځي. زموږ موخه دا ده چې د علمي کیفیت د لوړولو، د څېړنې د فرهنګ د پیاوړتیا، د استادانو او محصلانو د ظرفیتونو د پراختیا او له ټولنې سره د پوهنتون د اړیکو د پراخولو له لارې د ښوونې او روزنې په برخه کې مثبت او دوامدار بدلون رامنځته کړو. په پای کې، د ټولو هغو استادانو، اداري کارکوونکو او همکارانو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي پرمختګ او د دې لارښود د چمتو کولو په بهیر کې یې هڅې کړې دي. هیله لرم چې زموږ محصلان به د علم، اخلاقو، تخصص، اسلام او وطن ته د خدمت په روحیه سمبال، د هېواد د پرمختګ او د راتلونکو نسلونو د سالمې روزنې لپاره اغېزمن مسلکي کادرونه وګرځي. په درنښت

پوهندوی مولوي میرویس ستانکزی

د ښــوونې او رزونې پوهــنځي رئیس

## سریزه

نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّي عَلَى رَسُولِهِ الْكَرِيمِ، أَمَّا بَعْدُ:

لارښود د یوې علمي او تحصیلي اداري د پېژندنې، جوړښت، فعالیتونو او موجودو تحصیلي فرصتونو د منظم انعکاس لپاره یو مهم معلوماتي سند ګڼل کېږي. د لوړو زده کړو په چاپېریال کې د داسې یوه سند شتون د دې زمینه برابروي چې اړوند معلومات په منظم، لنډ، روښانه او معیاري بڼه راټول او د اړتیا وړ مراجعینو ته وړاندې شي.

د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د لارښود د ترتیب اساسي موخه دا ده چې د پوهنځي اړوند مهم او بنسټيز معلومات په یوه واحده او منسجمه مرجع کې تنظیم شي. په دې لارښود کې هڅه شوې چې د پوهنځي د تحصیلي او علمي جوړښت اړوند هغه معلومات وړاندې شي چې د محصلانو، استادانو، علمي کادرونو، څېړونکو او نورو علاقه‌مندانو لپاره د استفادې وړ وي. د لارښود محتوا د پوهنځي د تحصیلي جوړښت، علمي څانګو، تحصیلي پروګرامونو، درسي بهیر، علمي او څېړنیزو فعالیتونو، استادانو، محصلانو او اړوندو علمي او اداري چارو د پېژندنې پر محور راټوله شوې ده. د معلوماتو په تنظیم کې هڅه شوې چې مطالب په داسې ترتیب وړاندې شي چې لوستونکی وکولای شي د پوهنځي د بېلابېلو برخو په اړه اړین معلومات په اسانه ترلاسه کړي. دې لارښود له لارې د پوهنځي د موجوده تحصیلي ظرفیتونو او علمي فعالیتونو د انعکاس ترڅنګ، د تحصیلي پروګرامونو، څانګو او اړوندو علمي چارو په اړه د معلوماتو د لا روښانه کېدو زمینه هم برابره شوې ده. په دې توګه، لارښود کولای شي د معلوماتو د لاسرسي، د تحصیلي فرصتونو د پېژندنې او د پوهنځي د علمي او اداري جوړښت د درک لپاره د یوې منظمې مرجع په توګه وکارول شي. د لارښود په ترتیب کې د معلوماتو د دقت، انسجام، وضاحت او موضوعي ترتیب اصول په پام کې نیول شوي دي. له همدې امله، وړاندې شوي مطالب د پوهنځي د اوسني تحصیلي او اداري وضعیت د معرفي کولو په موخه تنظیم شوي او تمه ده چې د راتلونکو علمي او تحصیلي اړتیاوو له مخې به یې محتوا په دوره‌یي ډول وکتل شي او د اړوندو بدلونونو له مخې به نوې کېږي.

# د ښوونې او رزونې پوهنځي مخینه

د لوړو زده کړو وزارت د (۵۷۵) ګڼې ۱۳۹۲/۱۲/۱۳ نېټې وړاندیز او د تېر حکومت د ریاست د (۱۲۰۰) ګڼې ۱۳۹۳/۰۲/۲۰ نېټې حکم پر بنسټ، د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د (ریاضي ـ فزیک) او (کېمیا ـ بیولوژي) په نوم له دوو څانګو سره خپل علمي او اکاډمیک فعالیتونه یې پیل کړل.

نوموړي پوهنځي د خپلې پیلیزې دورې په اوږدو کې د دوو کلونو لپاره د یادو څانګو له لارې د تدریس چارې پر مخ یوړې. وروسته د تقنین او مؤسساتي انکشاف آمریت د (۱۱۴) ګڼې ۱۳۹۴/۴/۹ نېټې مکتوب او د علمي بورډ د ۱۳۹۸/۴/۸ نېټې پرېکړې پر اساس، دغه دوه څانګو په څلورو جلا څانګو ـ (ریاضي، فزیک، کېمیا او بیولوژي) ـ ووېشل شول. په دوام کې، د ملکي لوړو زده کړو مؤسسو عالي شورا د (۵) ګڼې ۱۳۹۸/۵/۱۵ نېټې د (۱۷) بند د تصویب له مخې، د (اسلامي ثقافت) او (انګلیسي ژبې او ادبیاتو) دوه غیر فارغ ورکوونکي څانګې د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې رامنځته شوې. ورپسې د لوړو زده کړو وزارت د (۱۲۶) ګڼې ۱۳۹۸/۶/۱۴ نېټې مکتوب پر اساس، د بیولوژي او ریاضي څانګو لپاره د شپې برنامې هم په همدې پوهنځي کې پیل شوې او د محصلانو پر وړاندې یې خپلې دروازې پرانیستې.

د وروستیو پرمختګونو په لړ کې، د وزارت عالي شورا د (۱۰۶۹/۲۶۲۲) ګڼې د ۱۴۰۲/۲/۲ نېټې د (۸) بند د تصویب پر اساس، د کمپیوټر زده کړې څانګه د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې تاسیس شوه. همدارنګه، د اسلامي ثقافت غیر فارغ ورکوونکې څانګه د فارغ ورکوونکې څانګې په کچه ارتقا ومونده او د (اسلامي علومو او فرهنګ) تر عنوان لاندې تأیید شوه.

اوس مهال د ښوونې او روزنې پوهنځی د اووه فارغ ورکوونکو څانګو لرونکی دی چې په کې د تجربې، علمي وړتیا او مسلکي پوهې څښتن استادان د محصلانو د روزنې، علمي څېړنو او اداري چارو مسؤلیت په اغېزمنه توګه پر مخ وړي.

## لرلید

د ښوونې او روزنې پوهنځی هڅه کوي چې د ټولنې اړتیاوو او د کار بازار ته په کتو، د ځېړنو او مسلکي ښوونکو روزلو په برخه کې د هیواد په کچه د یو با اعتباره او مخکښ اکاډمیک بنسټ په توګه ځانګړی مقام خپل کړي.

## رسالت

ښوونې او روزنې پوهنځی په لازمو مهارتونو، عصري مېتودونو، ښوونیزه ټکنالوژۍ، اسلامي او ملي روحیې سمبال مسلکي، ژمن او مبتکر ښوونکو روزل او ستونزو ته علمي حل لارو لټولو په موخه د څېړنو ترسره کول خپل ماموریت ګڼي.

## ارزښتونه

- ✓ اسلامي ارزښتونو ته درناوی او ژمنتیا.
- ✓ د هیواد نافذه قوانینو، احکامو، فرامینو او لوایحو ته درناوی.
- ✓ صداقت، عدالت او تعهد.
- ✓ کاري ژمنتیا او پر مسلکیتوب باور.
- ✓ چارو کې کیفیت ته ځانګړې پام لرنه.
- ✓ شفافیت او حساب ورکونه.
- ✓ د مسئولیت احساس.
- ✓ خلاقیت او نوښت.
- ✓ د فساد او تعصب پر وړاندې مبارزه.
- ✓ د مشارکت اصل ته په کتلو سالم رقابت کول.

# اساسي موخې

۱: د علمي کادر غړو او اداري کارکوونکو د وړتیا لوړاوی

۲: د علمي څېړنو ترسره کول

۳: د کېمیا، فزیک او اسلامي ثقافت په برخه کې دوه د شپې برنامې ایجادول

۴: د کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکونې د دویم پړاو تېرول

۵: په مجهزو لابراتوارونو سره د ساینسي ټولو څانګو سمبالتیا

۶: په پروجکټورونو او څارونکو کامرو سره د ټولګیو سمبالول او د انټرنیټ سره پوهنځي او دفترونو نښلول

۷: دشنې داسې ساحې جوړول چې ۲۰ اوږدې او سیوري لرونکې څوکۍ ولري

۸: د کمپیوټرونو په لرلو د یوه کمپیوټر لب جوړول او د کتاب لوستنې لپاره د مناسب صالون لرونکی کتابتون

۹: د اکاډمیکو او اداري بستونو زیاتول د پوهنځی په اوسني تشکیل کې

۱۰: په اسلامي، انساني او ملي روحیه د هڅاندو، غښتلو او خلاقو محصلانو روزنه

۱۱: د زده کړیالانو مسلکي مهارتونو او تخصصي پوهې کیفیت لوړول

۱۲: د زده کړیالانو لپاره مشاوري مرکز ایجادول

۱۳: د زده کړیالانو ترمنځ د تجربو شریکولو او افکارو د ګډون زمینه برابرول

## د ښوونې او روزنې پوهنځي تشکیلاتي جوړښت




۱-۱ شکل: د ښوونې او روزنې پوهنځي جوړښت او تشکیلات

## د ښوونې او رزونې پوهنځي د علمي کادر غړو احصائیه

| شمیره | نوم | تخلص | د پلار نوم | علمي رتبه | تحصیلي درجه | تحصیلي څانګه | کاري تجربه | علمي آثار | د علمي مقالو خپرېدل |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | وحیدالله | عبدالرحیم زی | همیشه گل | پوهنوال | دوکتور | بیولوژي | ۲۰ | ۵ | ۲۰ |
| ۲ | محمد رحیم | رحیمی | حسن خان | پوهندوی | ماستر | ریاضي | ۱۷ | ۳ | ۸ |
| ۳ | محمد جاوید | ستانکزی | محمد شریف | پوهندوی | ماستر | کیمیا | ۱۱ | ۳ | ۱۲ |
| ۴ | عبدالصبور | فیضی | حلیم جان | پوهنمل | ماستر | ریاضي | ۱۱ | ۲ | ۵ |
| ۵ | محمد عالم | عاطف | محمد شریف | پوهنمل | ماستر | بیولوژي | ۱۲ | ۲ | ۵ |
| ٦ | نظیف الله | مهین | بسم الله | پوهنمل | ماستر | بیولوژي | ۱۳ | ۱ | ۵ |
| ۷ | محمد شریف | سلطانی | محمدآصف | پوهنمل | ماستر | فزیک | ۱۲ | ۲ | ۳ |
| ۸ | ابراهیم | نوري | نور ولی | پوهنمل | ماستر | اسلامي علوم او فرهنگ | ٦ | ۲ | ٦ |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | يحيى | حقمل | سيف الملوک | پوهنيار | دوکتور | اسلامي علوم او فرهنگ | ٦ | ۲ | ۳ |
| ۱۰ | غلام حبيب | حبيبي | تورگل | پوهنيار | ماستر | رياضي | ۱۲ | ۱ | ۲ |
| ۱۱ | شبير الله | حيات | الف خان | پوهنيار | ماستر | فزيک | ۱۱ | ۲ | ۴ |
| ۱۲ | صفی الله | نوابی | عبدالجليل | پوهنيار | ماستر | کيميا | ۱۲ | ۱ | ۴ |
| ۱۳ | عزير محمد | کاکړ | پاینده محمد | پوهنيار | ماستر | کيميا | ۸ | ۱ | ۱۲ |
| ۱۴ | ذبيح الله | عمری | نورانجان | پوهنيار | ماستر | رياضي | ۹ | ۱ | ۱ |
| ۱۵ | ذبيح الله | احمدی | عزيز الله | پوهنيار | ماستر | فزيک | ۹ | ۱ | ۲ |
| ۱٦ | قدرت الله | مهمند | نصر الله | پوهنيار | ماستر | بيولوژي | ۸ | ۱ | ۳ |
| ۱۷ | نجيب الله | نجيب | جنت گل | پوهنيار | ليسانس | اروا‌پوهنه | ۸ | ۱ | ٦ |
| ۱۸ | محمدتميم | مزمل | محمد نعيم | پوهنيار | ماستر | انگليسي | ۵ | ۱ | ۱ |
| ۱۹ | رفيع الله | سعيد | جمال الدين | پوهنيار | ليسانس | انگليسي | ۵ | ۱ | ۱ |
| ۲۰ | احمد غيور | يوسفزی | احمد شاه | پوهنيار | ماستر | اسلامي علوم او فرهنگ | ۱۳ | ۱ | ۳ |
| ۲۱ | فضل ربی | زاهد | علی گل | پوهنيار | ماستر | اسلامي علوم او فرهنگ | ۳ | ۱ | ۲ |
| ۲۲ | بريالی | روفی | رحيم گل | نوماند پوهنيار | ليسانس | کمپيوټر زده کړه | ۴ | ۱ | ۳ |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳ | الله محمد | رازدار | رازمحمد | نوماند پوهنیار | لیسانس | کمپیوټر زده کړه | ۲ | ۰ | ۲ |
| ۲۴ | عبدالقادر | سادات | سیدحضر ت شاه | نوماند پوهنیار | لیسانس | کمپیوټر زده کړه | ۲ | ۰ | ۰ |
| ۲۵ | وحیدالله | همتا | محمد رسول | نوماند پوهنیار | لیسانس | بیولوژي | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۲۶ | شیر محمد | حریفال | امیرمحمد | نوماند پوهنیار | لیسانس | کیمیا | ۲ | ۰ | ۰ |
| ۲۷ | محمد فاروق | آریایي | محمد صادق | نوماند پوهنیار | لیسانس | کیمیا | ۱ | ۰ | ۰ |
| ۲۸ | محب الله | ستانکزی | فضل الله | نوماند پوهنیار | لیسانس | ریاضي | ۲ | ۰ | ۰ |
| ۲۹ | عبدالله | مسرور | فضل الربی | نوماند پوهنیار | لیسانس | ریاضي | ۲ | ۰ | ۰ |
| ۳۰ | حضرت میر | احمدزی | محمد میر | نوماند پوهنیار | لیسانس | فزیک | ۲ | ۰ | ۰ |
| ۳۱ | نصیراحمد | سهاک | محمدنعیم | نوماند پوهنیار | لیسانس | ښوونه او روزنه | ۲ | ۱ | ۱ |
| ۳۲ | نورجمال | مبارکزی | سید مبارک شاه | نوماند پوهنیار | لیسانس | انگلیسي | ۵ | ۱ | ۱ |
| ۳۳ | حامد کرزی | شینواری | حاجي زرمه گل | نوماند پوهنیار | لیسانس | انگلیسي | ۲ | ۰ | ۰ |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | محمد یعقوب | رحماني | سیدالرحمن | نوماند پوهنیار | لیسانس | انگلیسي | ۱ | ۰ | ۰ |
| ۳۵ | احمد ضیا | زاهد | شاه محمود | نوماند پوهنیار | لیسانس | فزیک | ۴ | ۰ | ۰ |
| ۳۶ | سید محمد | سعادت | محمد عمر | نوماند پوهنیار | لیسانس | ریاضی | ۴ | ۰ | ۰ |
| ۳۷ | سردار ولي | ثاقب | احمد نبی | نوماند پوهنیار | لیسانس | کیمیا | ۴ | ۰ | ۰ |
| ۳۸ | محمد فلاح | سلطانی | محمد انور | نوماند پوهنیار | لیسانس | کیمیا | ۲ | ۰ | ۰ |
| ۳۹ | علی جان | غلامی | محمد علی | نوماند پوهنیار | لیسانس | فزیک | ۳ | ۰ | ۰ |
| ۴۰ | کریم خان | منگل | یارمحمد | نوماندپوه نیار | لیسانس | کمپیوټر ساینس | ۰ | ۰ | ۰ |

۱-۱ جدول: د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي کادر غړو لیست

## علمي رتبو پر بنسټ د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي کادر غړو احصائیه

| نوماند پوهنیار | پوهنیار | پوهنمل | پوهندوی | پوهنوال | پوهاند |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ تنه | ۱۳ تنه | ۵ تنه | ۲ تن | ۱ تن | نلري |




۱-۲جدول: د علمي رتبو پر بنسټ د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي کادر غړو لیست

## تحصیلی درجې پر بنسټ د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي کادر غړو احصائیه

| دوکتور | ماستر | لیسانس |
|---|---|---|
| ۲ | ۱۰ | ۲۸ تن |




۳-۱جدول: د تحصیلي درجې پر بنسټ د ښوونې او روزنې پوهنځي د علمي کادر غړو لېست

## د ښوونې او روزنې پوهنځي د برحاله محصلانو احصائیه

| | کیمیا | بیولوژي | فزیک | ریاضی | اسلامي علوم او فرهنګ | انګلیسي ژبه او ادبیات | کمپیوټر زده کړه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اول صنف | ٢٤ | ٦٣ | ٣١ | ٢٤ | ٠ | ٦٣ | ٦٨ |
| دویم صنف | ١٢ | ٣٦ | ٦ | ١٠ | ١٥ | ٢٧ | ٥٨ |
| دریم صنف | ٠ | ٣٩ | ٠ | ١٠ | ٠ | ٠ | ٣٧ |
| څلورم صنف | ٢٣ | ٢٥ | ١٠ | ١٧ | ١٢ | ٠ | ٠ |
| مجموعه | ٥٩ | ١٦٣ | ٤٧ | ٦١ | ٢٧ | ٩٠ | ١٦٣ |
| مجموعه | ٦١٠ | | | | | | |

۳-۱ جدول: د ۱۴۰۵ هـ. ش کال د څانګې پر بنسټ د برحاله محصلانو احصائیه

## د پوهنځي علمي شورا

ښوونې او رزونې پوهنځی د نورو پوهنځيو په څير منظمه علمي شورا لري چې د لوړو زده کړو وزارت له لايحې سره سم لاندې واکونه لري:

۱: د پوهنځي د اکاډميک او اداري جوړښت د بدلون په اړه د طرحې د تعديل وړانديز.

۲: د کيفيت د ښه والي په موخه د څانگو د درسي پلانونو، پروگرامونو او څېړنيزو پروژو د تعديل او تاييد د طرحې وړانديز.

۳: د علمي کادر غړو د څېړنې، تأليف او ژباړې د موضوعاتو او لارښود استاد د ټاکلو تاييد، تعديل يا د رد وړانديز.

۴: د علمي کادر غړو د کنفرانسونو د موضوعاتو او ژوري پلاوي د وړانديز تعديل، تاييد يا رد.

۵: د علمي کادر غړو د تقرر، بيا ځلي تقرر، د رتبې د تثبيت، ارتقاء، علمي ترفيع، تبديلۍ او انفکاک د اړوندو اسنادو اصولي پلټنه، تائيد يا رد.

٦: د څانگو د تأسيس، پراختيا، تجزيه، ادغام يا الغام وړانديز.

۷: د پوهنځي د داخلي طرزالعملونو طرحه او تصويب.

۸: د درسي نصاب او تحصيلي نهاد د علمي شورا د پريکړو د تطبيق څار.

۹: له اکاډميکو اصولو څخه د سرغړونو او انحراف مخنيوی.

۱۰: د هر سمستر په پای کې د څانگو د فعاليتونو ارزونه.

۱۱: له داخلي او نړيوالو پوهنتونونو سره د هوکړه ليکونو د لاسليک وړانديز.

۱۲: د پوهنځي داخلي کميټو ته د واک سپارل.

۱۳: د څانگې د درسي نصاب تائيد يا تعديل.

۱۴: د اړونده مسؤلينو لخوا سپارل شويو د نورو هغو فعاليتونو ترسره کول چې د لوړو زده کړو وزارت په اصولو کې وړاندوينه شوې وي.

## د پوهنځي د علمي شورا د غړو لیست

۱: پوهندوي مولوي میرویس ستانکزی (د شورا مشر)

۲: پوهنیار فضل ربي زاهد (د شورا منشي)

۳: پوهنمل ابراهیم نوري (د شورا غړی)

۴: پوهنمل عبدالصبور فیضي (د شورا غړی)

۵: پوهنمل محمد عالم عاطف (د شورا غړی)

٦: پوهنیار احمد غیور یوسفزی (د شورا غړی)

۷: پوهنیار رفیع الله سعید (د شورا غړی)

۸: پوهنیار شبیرالله حیات (د شورا غړی)

۹: نوماند پوهنیار محمد فلاح سلطاني (د شورا غړی)

۱۰: نوماند پوهنیار الله محمد راز دار (د شورا غړی)

## د ښوونې او روزنې پوهنځي کمېټې

د ښوونې او روزنې پوهنځي کې لاندې کمېټې فعالیت کوي:

۱. ستراتیژیک پلان کمېټه
۲. دعوت او ارشاد کمیټه
۳. د نصاب د تطبیق او ارزونې کمېټه
۴. څېړنې (تحقیق) کمېټه
۵. کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکونې کمېټه
۶. آزموینو کمېټه
۷. بریښنایي زده کړو کمېټه
۸. نظم او فرهنګي چارو کمېټه
۹. نخبه محصلانو کمېټه

## زیربنا

**الف: ودانۍ**

د لوګر پوهنتون د ښووني او روزني پوهنځی د خپلو علمي، تدريسي، اداري او مسلکي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره له اړینو ودانیو او بنسټیزو اسانتیاوو څخه برخمن دی. د پوهنځي فزيکي زيربناوې د تدريس، زده‌کړې، علمي فعالیتونو، اداري چارو او د پوهنځي د بېلابېلو کمېټو د کاري بهیر لپاره مهم رول لري. د دغو اسانتیاوو موخه د استادانو، محصلانو او اداري کارکوونکو لپاره د مناسب، منظم او د زده‌کړې له اړتیاوو سره برابر چاپېریال برابرول دي.

اوس مهال د ښووني او روزني پوهنځی دوه دوه‌پوړیزې ودانۍ لري چې په ټولیز ډول ۱۸ درسي ټولګي پکې شتون لري. دغه ټولګي د پوهنځي د بېلابېلو تحصیلي څانګو د تدريسي فعالیتونو لپاره کارول کېږي او د محصلانو د شمېر او درسي اړتیاوو په پام کې نیولو سره د زده‌کړو د ترسره کولو لپاره ځانګړي شوي دي. په هر درسي ټولګي کې د ۴۰ څخه تر ۵۰ محصلانو د ناستې لپاره مېزونه او څوکۍ برابرې شوې دي، څو محصلان وکولای شي په مناسب چاپېریال کې درسي مطالب تعقیب کړي، په علمي بحثونو کې ګډون وکړي او له استادانو سره په تدريسي فعالیتونو کې فعاله ونډه واخلي. د تدريسي ټولګيو ترڅنګ، د پوهنځي په ودانیو کې د استادانو او اداري کارکوونکو لپاره لس (۱۰) جلا دفترونه هم شتون لري.





**ب: تالار**

د علمي غونډو اوکنفرانسونو تالار چې اوس مهال د مسلکي پراختيا آمريت ته په واک کې ورکړل شوی، د دی پوهنځي په بدنه کی جوړ شوی چې د ۱۰۰ کسانو د ناستې ظرفيت لري چې په پروجکتور، غږيز سيستم او پردې باندی سمبال دی. د زيربنا په برخه کې برېښنا، د څښاک اوبو سيستم، د انټرنټ خدمات او مناسب تشنابونه برابر شوي دي.





**ج: منقول اموال**

د منقول اموالو په برخه کې پوهنځی د فرنيچر په برخه کې د ۶۰۰ ميزونو او چوکيو، ۴۰ دفتري ميزونو، ۲۵ تختو (بوردونو)، او الماريو سره سمبال دی. د ټکنالوژۍ او وسايلو برخه کې۱۸ LCD سکرينونه ۱۲ کمپيوټرونه، ۵ پروژکتورونه، ۱۴ پرنټرونه، او يو شمېر د اړتيا وړ دفتري وسايل شتون لري، سر بيره پر دې د پوهنځي ټولې خانګې او اداری خونې د سړونی او ګرميدو په وسايلو سمبال دي.





## اسانتیاوې

د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی د محصلانو د علمي، مسلکي، څېړنیزو او فکري وړتیاوو د پیاوړتیا لپاره بېلابېل خدمتونه او اسانتیاوې برابروي. دغه اسانتیاوې د تدریس، مطالعې، څېړنې، عملي زده کړو، ورزش او مسلکي ودې د ملاتړ په موخه وړاندې کېږي.

**الف: کتابتون**

د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي کتابتون د محصلانو او استادانو د علمي، څېړنیزو او مطالعاتي اړتیاوو د پوره کولو په موخه فعالیت کوي. دغه کتابتون له ۱۵۰۰ څخه زیاتو درسي او څېړنیزو کتابونو، څېړنیزو رسالو او د استادانو له علمي اثارو څخه برخمن دی، چې د محصلانو د درسي مطالبو د لا ښه زده‌کړې، د علمي معلوماتو د ترلاسه کولو، د څېړنیزو فعالیتونو د پیاوړتیا او د مطالعې د فرهنګ د پراختیا لپاره مهمې سرچینې ګڼل کېږي.

د پوهنځي کتابتون د محصلانو لپاره د مطالعې ځانګړی چاپېریال لري چې په یو وخت کې د ۳۰ تنو د مطالعې ظرفیت لري. محصلان کولای شي په دغه چاپېریال کې درسي کتابونه مطالعه کړي، د خپلو مضمونونو اړوند معلومات راټول کړي، د علمي او څېړنیزو رسالو له محتوا څخه ګټه واخلي او د سیمینارونو، علمي مقالو، مونوګرافونو او نورو تحصیلي فعالیتونو لپاره اړین معلومات ترلاسه کړي.




**ب: انټرنېټ او برېښنايي کتابتون**

د ښوونې او روزنې پوهنځی د علمي معلوماتو د ترلاسه کولو، څېړنيزو فعاليتونو د پياوړتيا، د برېښنايي زده‌کړو د پراختيا او د معاصرې ټکنالوژۍ د اغېزمنې کارونې په موخه د انټرنېټ او ډيجيټلي علمي سرچينو څخه د استفادې زمينه برابروي. د دغو امکاناتو شتون د استادانو او محصلانو لپاره د علمي معلوماتو د لاسرسي، د نوې پوهې د ترلاسه کولو او د تدريسي او څېړنيزو فعاليتونو د ښه‌والي په برخه کې مهم ارزښت لري.

محصلان کولای شي د خپلو تحصيلي څانګو او درسي مضامينو اړوند علمي معلومات د انټرنېټ له لارې ترلاسه کړي او له برېښنايي کتابتونونو، ډيجيټلي کتابونو، علمي مقالو، څېړنيزو رسالو او نورو باوري علمي سرچينو څخه ګټه واخلي. دغه سرچينې محصلانو ته زمينه برابروي چې د درسي کتابونو ترڅنګ د علمي معلوماتو له پراخو او نويو سرچينو سره هم بلدتيا پيدا کړي او د خپلو علمي دندو، سيمينارونو، څېړنيزو مقالو او مونوګرافونو لپاره اړين معلومات راټول کړي.



## ج: مجهز درسي صنفونه

د ښوونې او روزنې پوهنځی د اغېزمن تدریس او معیاري زده‌کړو د بهیر د پیاوړتیا لپاره مناسب او مجهز درسي صنفونه لري. دغه صنفونه د تدریسي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره مناسب چاپېریال برابروي.

درسي صنفونه د محصلانو د شمېر او تدریسي اړتیاوو په پام کې نیولو سره تنظیم شوي دي، څو استادان وکولای شي خپل درسي مطالب په منظم او اغېزمن ډول وړاندې کړي. د صنفونو مناسب جوړښت او اړوند تدریسي اسانتیاوې د درس د ښه مدیریت، د وخت د اغېزمنې استفادې او د تدریس د کیفیت په لوړولو کې مهم رول لري.



**د: لابراتوارونه**

د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی د محصلانو د عملي زده کړو، علمي مهارتونو د پیاوړتیا او د نظري زده کړو د تطبیق په موخه فعال لابراتوار لري. دغه لابراتوار د اړوندو تحصیلي څانګو د تدریسي او عملي اړتیاوو د پوره کولو لپاره په بېلابېلو لابراتواري وسایلو او تجهیزاتو سمبال دی، چې د مایکروسکوپونو، ازمایښتي وسایلو او د اړوندو مضامینو د تدریس لپاره د اړتیا وړ نورو وسایلو او تجهیزاتو په ګډون بېلابېل امکانات پکې شامل دي.

همدارنګه، لابراتوار د استادانو لپاره د عملي تدریس، د علمي مفاهیمو د روښانولو او د محصلانو د عملي مهارتونو د ارزونې یو مهم تدریسي چاپېریال برابروي. د لابراتواري فعالیتونو له لارې محصلان له علمي وسایلو سره د بلدتیا، د هغو د سمې کارونې او د تجربو د ترسره کولو له اصولو سره عملي اشنایي ترلاسه کوي، چې د هغوی د مسلکي وړتیاوو په پراختیا کې ارزښتناک رول لري.





### هـ : ورزشي میدانونه او تفریحي اسانتیاوې

د ښوونې او روزنې پوهنځی محصلانو ته د ورزش، سالمې تفریح او بدني فعالیتونو لپاره د موجودو ورزشي میدانونو او اسانتیاوو څخه د استفادې زمینه برابروي. د پوهنځي اړوند چاپیریال کې د کرکټ، والیبال او فوټبال میدانونه شته چې محصلان ترې د خپلو ورزشي فعالیتونو، تمرینونو او دوستانه سیالیو لپاره ګټه اخلي.

ورزشي فعالیتونه د محصلانو د جسمي روغتیا، ذهني نشاط او ټولنیز تعامل په پیاوړتیا کې مهم رول لري. همدارنګه، په ډله‌ییزو لوبو کې ګډون د محصلانو ترمنځ د همکارۍ، متقابل درناوي، نظم، مسؤلیت‌پذیرۍ او ټیمي روحیې د پیاوړتیا لامل کېږي.






## و: ارام او مناسب علمي چاپېریال

ښوونې او روزنې پوهنځي استادانو او محصلانو لپاره د مطالعې، تدریس، څېړنې او علمي فعالیتونو ترسره کولو په موخه پاک، منظم، ارام او مناسب چاپېریال برابر کړی دی.



**ز: علمي سفرونه**

د ښوونې او روزنې پوهنځی د کلني کاري پلان او شته امکاناتو له مخې د محصلانو لپاره علمي او مطالعاتي سفرونه تنظيموي. دغه سفرونه د محصلانو د نظري زده کړو د عملي پياوړتيا او د هغوی د علمي، ښوونيزې او مسلکي پوهې د پراختيا په موخه ترسره کېږي.

د علمي سفرونو له لارې محصلان له علمي، ښوونيزو او فرهنگي مرکزونو سره بلدتيا پيدا کوي او د درسي مو ضوعاتو په اړه خپلې پوهې ته عملي بڼه ورکوي. دغه سفرونه محصلانو ته فرصت برابروي چې له بېلابېلو علمي تجربو، ښوونيزو فعاليتونو او مسلکي چاپېريالونو سره اشنا شي او خپلې مشاهدې له خپلو درسي مطالبو سره وتړي.

همدارنگه، علمي او مطالعاتي سفرونه د محصلانو د مشاهدې، تحليل، پوښتنې کولو، علمي بحث او تجربې شريکولو وړتياوې پياوړې کوي. د دغو فعاليتونو په پايله کې محصلان د ټولگي له نظري زده کړو څخه عملي گټه اخلي او د خپل راتلونکي مسلک له اړتياوو سره ښه بلدتيا پيدا کوي.



**خ: سیمینارونه او ورکشاپونه**

د ښوونې او روزنې پوهنځی د محصلانو د علمي، څېړنیزو او مسلکي وړتیاوو د پیاوړتیا په موخه سیمینارونه، ورکشاپونه، کنفرانسونه او نور علمي پروګرامونه د خپل کلني پلان او شته امکاناتو له مخې تنظیموي. دغه پروګرامونه د محصلانو د پوهې د پراختیا، د نوو علمي معلوماتو د ترلاسه کولو او د هغوی د فکري او مسلکي ودې لپاره مهم فرصتونه برابروي.

په دغو علمي فعالیتونو کې محصلان له بېلابېلو علمي موضوعاتو سره بلدتیا پیدا کوي، خپلې نظریې او تجربې له نورو ګډونوالو سره شریکوي او د علمي بحثونو، پوښتنو او ځوابونو له لارې خپله پوهه پیاوړې کوي. همدارنګه، دغه پروګرامونه د محصلانو د سمینار، وینا، اسلامي فکر، څېړنې او د نظر څرګندولو مهارتونو په وده کې مرسته کوي.

ورکشاپونه محصلانو ته د عملي فعالیتونو، مهارتونو د تمرین او د علمي موضوعاتو د تطبیق فرصت برابروي؛ په داسې حال کې چې سیمینارونه او کنفرانسونه د علمي معلوماتو د وړاندې کولو، د نویو نظریاتو د شریکولو او د علمي بحثونو د پراختیا لپاره زمینه مساعدوي.



**ط: لیلیه**

د ښوونې او روزنې پوهنځی د پوهنتون د اړوندو مقرراتو او شته امکاناتو له مخې په شرایطو برابر محصلانو ته د پوهنتون په لیلیه کې د استوګنې او خوراک اسانتیاوې برابروي. په لیلیه کې د استوګنې لپاره د مناسبو خونو او د خوړو د برابرولو موخه دا ده چې محصلان وکولای شي له مناسبو شرایطو څخه په ګټې اخیستنې خپلې زده‌کړې په ښه ډول پر مخ یوسي.

د لیلیې اسانتیاوې محصلانو ته د استوګنې او ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو زمینه برابروي او هغوی ته فرصت ورکوي چې د زده‌کړو، مطالعې او علمي فعالیتونو لپاره خپل وخت په اغېزمنه توګه تنظیم کړي. دغه اسانتیاوې په ځانګړي ډول هغو محصلانو ته ارزښت لري چې د پوهنتون له سیمې لرې ژوند کوي او د زده‌کړو د دوام لپاره استوګنځي ته اړتیا لري.





## د ښوونې او روزنې پوهنځي څانگې

ښوونې او روزنې پوهنځی اوه څانگې لري چې ټولې يې‌فارغ ورکوونکې څانگې دي چې عبارت دي له: رياضي څانگه، فزيک څانگه، کېميا څانگه، بيولوژي څانگه، اسلامي علومو او فرهنگ څانگه، انگلېسي ژبې او ادبياتو څانگه او کمپيوټر زده کړې څانگه.



## د رياضي څانګه

د رياضي څانګې تشکيلاتي جدول

پوهنمل عبدالصبور فيضي ـ د څانګې آمر

پوهندوی محمد رحيم رحيمي

پوهنيار غلام حبيب

پوهنيار ذبيح الله عمري

نوماند پوهنيار سيد محمد سعادت

نوماند پوهنيار محب الله ستانکزی

نوماند پوهنيار عبدالله مسرور

نوماند پوهنيار نصير احمد

## د رياضي څانګې مخينه

د رياضي – فزيک څانګه لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي له ايجاد سره سم د لوړو زده کړو وزارت د (۵۷۵) ګڼې د وړانديز او د ۱۳/۱۲/۱۳۹۳ ل په نېټه او د تېرې اداري د (۱۲۰۰) ګڼې حکم د ۲۰/۲/۱۳۹۲ نېټې سره ايجاد او په فعاليت پيل وکړ. لوګر پوهنتون د (۱٦۵) ګڼې وړانديز او د ۲۵/۳/۱۳۹۴ نېټې سره سم د لوړو زده کړو وزارت د انسجام او اکاډميکو چارو له رياست څخه د يادو څانګو د بېل والي غوښتنه وکړه، چې خوشبختانه بيا د (۱۱۴) ګڼې حکم پر بنسټ د ۹/۴/۱۳۹۴ نېټې سره سم د تقنين او پراختيايي آمريت له لورې د علمي بورډ د ۸/۴/۱۳۹۴ نېټې د پريکړې پر بنسټ د رياضی څانګه د نورو څانګو په څېر په مستقل ډول په فعاليت پيل وکړ، چې ياده څانګه اوس مهال (۷) تنه علمي کادر غړي لري.

## د رياضي څانګې لرليد

د رياضي څانګه هڅه کوي چې د هیواد په کچه مسلکي او متخصصو ښوونکو د روزنې مرکز په توګه ځانګړی مقام خپل کړي.

## د رياضي څانګې رسالت

د معیاري زده کړو، د معاصرې ټکنالوژي، د تدریس نویو میتودونو او لازمومهارتونو پر بنسټ د رياضي د متخصصو کادرونو او مسلکي ښوونکو روزنه.

## د رياضي څانګې فارغو محصلانو لپاره کاري فرصتونه

۱: د پوهنې وزارت تر چتر لاندې د رياضي متخصص په توګه؛

۲: په پوهنتونونو او علومو اکاډمۍ کې د استاد، څېړونکي یا علمي غړي په توګه؛

۳: په خصوصي او دولتي ښوونځیو کې د رياضي مسلکي ښوونکي په توګه ؛

۴: کانکور اماده ګۍ ښوونیزو مرکزنو کې د رياضي مسلکي استاد په توګه؛

۵: د اتومي انرژي څېړونکي په توګه؛

٦: تخنیکي او مسلکي زده کړو عمومي اداره کې د رياضي مسلکي غړي او استاد په توګه؛

۷: په سوداګریزو بانکونو کې د مالي محاسباتو د برخې مسؤل په توګه؛

۸: د تعلیمي نصاب په برخه کې د رياضي مسلکي غړي په توګه؛

۹: د ګمرکونو په عمومي اداره کې کارپوه او مسلکي غړی په توګه.

## د فزیک څانګه

د فزیک څانګې تشکیلاتي جدول

| |
|---|
| پوهنیار شبیرالله حیات ـ د څانګې آمر |

| | | |
|---|---|---|
| پوهنمل محمد شریف سلطاني | پوهنیار ذبیح الله احمدي | نوماند پوهنیار علی جان غلامی |
| نوماند پوهنیار احمد ضیا زاهد | نوماند پوهنیار حضرت میر احمدزی | پوهنیار نجیب الله نجیب |

## د فزیک څانګې مخینه

د ریاضي – فزیک څانګه د ښوونې او روزنې پوهنځي له ایجاد سره سم د لوړو زده کړو وزارت د (۵۷۵) ګڼې د وړاندیز او د ۱۳/۱۲/۱۳۹۳ نیټې او د تېرې اداري د (۱۲۰۰) ګڼې حکم د ۲۰/۲/۱۳۹۲ نیټې سره ایجاد او د څلور تنو علمي کادر غړو په درلودو یې په فعالیت پیل وکړ. لوګر پوهنتون د (۱۶۵) ګڼې وړاندیز او د ۲۵/۳/۱۳۹۴ نیټې سره سم د لوړو زده کړو وزارت د انسجام او اکاډمیکو چارو له ریاست څخه د یادو څانګو د بېل والي غوښتنه وکړه، چې خوشبختانه بیا د (۱۱۴) ګڼې حکم پر بنسټ د ۹/۴/۱۳۹۴ نیټې سره سم د تقنین او پراختیایي آمریت له لورې د علمي بورډ د ۸/۴/۱۳۹۴ نیټې د پریکړې پر بنسټ د فزیک څانګه د نورو څانګو په څېر په مستقل ډول په فعالیت پیل وکړ، چې یاده څانګه اوس مهال اووه تنه علمي کادر غړي لري.

## د فزیک څانګې لرلید

د فزیک څانګه هڅه کوي چې د هیواد په کچه مسلکي او متخصص ښوونکو د روزنې مرکز په توګه اکاډمیک اعتبار ترلاسه او ځانګړی مقام خپل کړي.

## د فزیک څانګې رسالت

د معیاري زده کړو، د معاصرې ټکنالوژۍ، د تدریس نویو میتودونو، لازمومهارتونو او ملي تګلارو پر بنسټ د فزیک متخصص کادرونو او مسلکي ښوونکو روزنه.

## د فزیک څانګې فارغانو لپاره کاري فرصتونه

۱: د پوهنې وزارت تر چتر لاندې د فزیک متخصص او څیړونکي په توګه؛

۲: په پوهنتونونو او علومو اکاډمۍ کې د استاد، څېړونکي یا علمي غړي په توګه؛

۳: علومو اکاډمۍ غړیتوب؛

۴: کانکور اماده ګۍ ښوونیزو مرکزنو کې د فزیک مسلکي استاد په توګه؛

۵: د اتومي انرژي څیړونکي په توګه؛

۶: تخنیکي او مسلکي زده کړو عمومي اداره کې د فزیک مسلکي غړي او استاد په توګه؛

۷: مخابراتو وزارت تر چتر لاندې د فزیک کار پوه په توګه؛

۸: د انرژۍ او سولر پروژو کې د څیړونکي په توګه؛

۹: انجینرۍ او صنعتي سکتور تر چتر لاندې د فزیک کار پوه په توګه.

## د کېمیا څانګه

د کېمیا څانګې تشکیلاتي جدول

نوماند پوهنیار محمد فلاح سلطانی ـ د څانګې آمر

پوهندوی محمد جاوید ستانکزی

پوهنیار محمد صفی الله نوابی

پوهنیار عزیز محمد کاکړ

نوماند پوهنیار سردار ولی ثاقب

نوماند پوهنیار شیر محمد حریفال

نوماند پوهنیار محمد فاروق آریایی

## د کېمیا څانګې مخینه

د کېمیا – بیولوژي څانګه د ښوونې او روزنې پوهنځي له ایجاد سره سم د لوړو زده کړو وزارت د (۵۷۵) ګڼې د وړاندیز او د ۱۳/۱۲/۱۳۹۳ ل کال سره سم او د تېرې اداري د (۱۲۰۰) ګڼې حکم د ۲۰/۲/۱۳۹۲ نېټې سره ایجاد او په فعالیت پیل وکړ. لوګر پوهنتون د (۱٦۵) ګڼې وړاندیز او د ۲۵/۳/۱۳۹۴ نېټې سره سم د لوړو زده کړو وزارت د انسجام او اکاډمیکو چارو له ریاست څخه د (۱۱۴) ګڼې حکم پر بنسټ د ۹/۴/۱۳۹۴ نېټې سره سم د تقنین او پراختیایي آمریت له لوري د علمي بورډ د ۸/۴/۱۳۹۴ نېټې د پریکړې پر بنسټ د کېمیا څانګه د نورو څانګو په څېر په مستقل ډول په فعالیت پیل وکړ، چې یاده څانګه اوس مهال اووه (۷) تنه علمي کادر غړي لري.

## د کېميا څانګې لرليد

د ښوونې او روزنې پوهنځي کېميا څانګه هڅه کوي چې د ټولنې او کار بازار علمي او صنعتي اړتياوو پر بنسټ د نوښتګرو څېړونکو او مسلکي ښوونکو روزلو په برخه کې  د هېواد په کچه يو څانګړی مقام ترلاسه کړي.

## د کېميا څانګې رسالت

د ښوونې او روزنې پوهنځي کېميا څانګه په لازمو مهارتونو، معاصرو درسي مېتودونو، ښوونيزې ټکنالوژۍ، په اسلامي او ملي روحيه سمبال د ټولنې او کار بازار د علمي او صنعتي اړتياوو مطابق د نوښتګرو څېړونکو او مسلکي ښوونکو روزل خپل ماموريت ګڼي.

## د کېميا څانګې فارغانو لپاره کاري فرصتونه

۱: په پوهنتونونو او علومو اکاډمۍ کې د استاد، څېړونکي يا علمي غړي په توګه؛

۲: په خصوصي او دولتي ښوونځيو کې د استاد په توګه؛

۳: د کانکور اماده ګۍ په ښوونيزو مرکزونو کې د کېميا مسلکي استاد په توګه؛

۴: په توليدي فابريکو کې د کيفيت کنترول مسؤل په توګه؛

۵: د معادن او پټروليم، صحت عامې، داخله، دفاع، زراعت او اوبو انرژۍ وزارتونو کې د کېميا متخصص په توګه؛

٦: د نورم او استندرد، ګمرکاتو او اتومي انرژۍ عمومي ادارو کې غړيتوب؛

۷: د موادو د تشخيص په لابراتوارونو کې د لابرانټ په توګه؛

۸: په تحقيقاتي ادارو کې دمسلکي محقق په توګه کار کول.

# د بیولوژي څانګه

د بیولوژي څانګې تشکیلاتي جدول

پوهنمل محمد عالم عاطف ـ د څانګې آمر

پوهندوی دوکتور وحید الله عبدالرحیمزی

پوهنمل نظیف الله مهین

پوهنیار قدرت الله مهمند

نوماند پوهنیار وحید الله همتا

## د بیولوژي څانګې مخینه

د بیولوژي څانګه د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکات کی په لومړي ځل د کیمیا او بیولوژي څانګې په نوم په ۱۳۹۳ کال کې ایجاد او فعالیت پیل کړ، چې په ۱۳۹٦ کال کی خپل لومړني فارغان د لیسانس په کچه ټولنې ته وړاندی کړل. بیولوژي څانګه له ۱۳۹۵ کال څخه تر دې مهاله د یوې جلا څانګې په توګه خپل فعالیت ترسره کوي. دغه څانګې درسي نصاب د پوهنې وزارت د لیسو، لابراتوارونو، کرهنې وزارت، چاپیریال ساتنی ریاست او د نړۍ د معیاري پوهنتونونو څخه د ارزونې او پرتله کولو وروسته د لوړو زده کړو وزارت لخوا د نصاب کلستر تر چتر لاندی ۱۳۹۸ کال کې ترتیب شوی او د تطبیق وړ دی.

## د بیولوژي څانګې لرلید

بیولوژي څانګه هڅه کوي چې د اغیزمنې ښوونې او روزنې، پرمختللو څېړنو او د نوې تکنالوژۍ د کارونې پر مټ د هیواد په کچه پیاوړی علمي موقف ولري.

## د بیولوژي څانګې رسالت

بیولوژي څانګه ژمنه ده چې د اسلامي او ملي روحیې په رڼا کې مسلکي اشخاص او متخصص ښوونکي، د علمي څېړنو او چاپیریال ساتنې د وړتیاوو په درلودلو سره د هیواد تعلیمي او تحصیلي بنسټونو لپاره چمتو کړي.

## د بیولوژي څانګې فارغانو لپاره کاري فرصتونه

۱: په پوهنتونونو او علومو اکاډمۍ کې د استاد، څېړونکي یا علمي غړي په توګه؛

۲: په خصوصي او دولتي ښوونځیو کې د بیولوژي استاد په توګه؛

۳: د چاپېریال ساتنې په ادارو کې د بیولوژي کارپوه او مسلکي کارکوونکي په توګه؛

۴: د بیولوژي او طبیعي علومو اړوند لابراتوارونو کې د لابراتوار د کارکوونکي په توګه؛

۵: د چاپېریال، ژوو، نباتاتو او طبیعي سرچینو د ساتنې په پروژو کې د مسلکي کارکوونکي په توګه؛

۶: د تعلیمي نصاب په برخه کې د بیولوژي مسلکي غړي په توګه.

## د اسلامي علومو او فرهنگ څانگه

د اسلامي علومو او فرهنگ څانگې تشکیلاتي جدول

پوهنیار احمد غیور یوسفزی ـ د څانگې آمر

پوهنمل ابراهیم نوري

پوهنیار دوکتور یحیی حقمل

پوهنیار فضل ربی زاهد

## د اسلامي علومو او فرهنگ څانگې مخینه

اسلامي ثقافت څانگه د یو غیر فارغ ورکونکی څانگې په توگه په کال ۱۳۹۸ هـ. ش کې د لوړو زده کړو وزارت د عالي شورى په پنځمه جلسه کې ایجاد شوه، چې د همدې مصوبې د فیصلی په اساس په کال ۱۳۹۹ هـ ش کې د ښوني او روزني پوهنځي په چوکاټ کې په خپل فعالیت پیل کړ او په کال ۱۴۰۲ هجری لمریز کال کې د (اسلامي علومو او فرهنگ) څانگې په نوم سره په فارغ ورکونکي څانگه تبدیل شوه، چې اوس مهال څلور تنه علمي کادر غړي د اسلامي علومو او فرهنگ څانگې د مسلکي او تخصصي مضامینو په تدریس بوخت دي.

## د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې لرلید

د اسلامي علومو او فرهنګ څانګه به د هیواد په کچه یوه منلې شوې څانګه وي، چې فارغ کادرونه به یې د هیواد په پوهنیز، عدلي قضایي او دعوت او ارشاد برخوکې مثبت تغیر راوستونکي وي.

## د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې رسالت

د اسلامي علومو او فرهنګ څانګه د خپل نصاب پر بنسټ د هیواد د پوهنیز سیستم لپاره مسلکي او متعهد معلمین روزي او د هیواد ځوان نسل په اسلامي فرهنګ د سمبالښت ترڅنګ، د اسلام د اصیل فهم پاللو او ترویجولو لپاره هلې ځلې کوي.

## د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې فارغو محصلانو لپاره کاري فرصتونه

۱: د لوړو زده کړو وزارت په چارچوب کې د علمي کادر غړي، څېړونکي او اداري مسؤل په توګه؛

۲: د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د دیني علومو د ښوونکي یا تعلیمي مسؤل په توګه؛

۳: د ارشاد، حج او اوقافو وزارت کې د دعوت، ارشاد، جوماتونو او اوقافو اړوند چارو کار پوه په توګه؛

۴: په محکمو او عدلي چارو کې د شرعي او فقهي چارو کار پوه په توګه؛

۵: په امارتي ادارو کې د دیني او فرهنګي چارو کارپوه په توګه؛

۶: په څېړنیزو او علمی مرکزونو کې د اسلامي علومو د څېړونکي په توګه؛

۷: په امارتي ادارو کې د اداري کارمند په توګه؛

۸: داخلي او خارجي مؤسساتو کې د کارپوه او اداري کارمند په توګه کار کول.

## د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه

د انګلیسي څانګې تشکیلاتي جدول

پوهنیار رفیع الله سعید ـ د څانګې آمر

پوهنیار محمد تمیم مزمل

نوماند پوهنیار نورجمال مبارکزی

نوماند پوهنیار حامد شینواری

نوماند پوهنیار محمد یعقوب رحماني

## د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې مخینه

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه د ملکي لوړو زده کړو مؤسسو عالي شورى د (۵) ګڼې ۱۳۹۸/۰۸/۱۵ نېټې (۱۷) بند تصویب پر بنسټ د یو غیر فارغ ورکوونکي څانګې په حیث د ښووني او روزني پوهنځي په چوکاټ کې داخل شو؛ او له ۱۵/ ۰۲/ ۱۴۰۰ نیټې څخه وروسته یې په فعالیتونو پیل وکړ، او په ۱۴۰۴ هـ. ش کال لومړی دوره محصلان جذب کړل، چې اوس مهال پنځه تنه علمي کادر غړي لري.

## د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې لرلید

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه هڅه کوي چې د هیواد په کچه د انګلیسي ژبې او ادبیاتو په برخه کې د ټولنې او کار بازار د اړتیاوو په پوره کولو کې ځانګړی مقام خپل کړي.

## د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې رسالت

د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې تولیز ماموریت د متعهدو، باتجربه او مسلکي استادانو، پرمختللې ټکنالوژۍ او عصري میتودونو په کارولو سره د انګلیسي ژبې او ادبیاتو په برخه کې د زده کړیالانو د پوهې او مهارتونو د کچې لوړول دي.

## د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګې فارغو محصلانو لپاره کاري فرصتونه

۱: په پوهنتونونو او علومو اکاډمۍ کې د استاد، څېړونکي یا علمي کادر غړي په توګه؛

۲: په دولتي او خصوصي ښوونځیو کې د انګلیسي ژبې د ښوونکي په توګه؛

۳: په ژبنیزو او ښوونیزو مرکزونو کې د انګلیسي ژبې د مسلکي استاد په توګه؛

۴: په دولتي ادارو، نادولتي مؤسسو (NGOs) او نړیوالو سازمانونو کې د ژباړونکي (Translator) او شفاهي ژباړونکي (Interpreter) په توګه؛

۵: په سفارتونو، قونسلګریو او نړیوالو ادارو کې د اداري او ژبني کارکوونکي په توګه؛

۶: د پروژو د راپور لیکونکي (Report Writer) او اسنادو د تنظیموونکي په توګه؛

۷: د انګلیسي ژبې د نصاب او درسي موادو د جوړوونکي په توګه؛

۸: د سیاحت او ګرځندوی په برخه کې د لارښود (Tour Guide) او د بهرنیو مېلمنو د همغږي کوونکي په توګه؛

۹: د څېړنیزو مرکزونو او علمي پروژو کې د څېړنیز مرستیال (Research Assistant) په توګه؛

۱۰: د کتابونو، مقالو او علمي آثارو د ژباړن او سمون مدیر (Proofreader) په توګه؛

۱۱: د نړیوالو ازموینو لکه IELTS او TOEFL د چمتووالي استاد په توګه؛

۱۲: د مشتریانو د خدمتونو (Customer Service) او د اړیکو د مرکزونو (Call Center) کارکوونکي په توګه.

## د کمپیوټر زده کړې څانګه

د کمپیوتر زده کړی څانګې تشکیلاتي جدول

نوماند پوهنیار الله محمد رازدار

نوماند پوهنیار بریالی روفي

نوماند پوهنیار عبدالقادر سادات

نوماند پوهنیار کریم خان منګل

## د کمپیوټر زده کړې څانګې مخینه

د کمپیوټر زده کړې څانګه د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې د لوړو زده کړو وزارت د (۲۲۶۸) ګڼې د وړاندیز او د ۴/ ۹/ ۱۴۴۴هـ. ق کال سره سم او د ریاست الوزرا د عالي مقام د (۳۳۰۵) ګڼې حکم د ۱۴۴۴/۹/۱۰ هـ.ق نېټې سره ایجاد او په فعالیت پیل وکړ. د کمپیوټر زده کړې څانګې د لومړي ځل لپاره د ۱۴۰۳ هـ. ش کال لومړی دوره محصلان جذب کړل.

## د کمپیوټر زده کړې څانګې لرلید

د کمپیوتر زده کړې څانګه هڅه کوي چې د معیاري تدریس له لارې مسلکي کادرونه او ښوونکي وروزي، څو د هیواد په کچه مثبت بدلون رامنځته کړي او یو منل شوې څانګه وګرځي.

## د کمپيوټر زده کړې ځانګې رسالت

د کمپيوتر زده کړې څانګه د معياري تحصيلي نصاب، عصري تدريسي ميتودونو، معاصرې ټکنالوژۍ او څېړنيزو مهارتونو پر بنسټ سمبال، ژمن، مسلکي کادرونه او ښوونکي روزي.

## د کمپيوټر زده کړې ځانګې فارغو محصلانو لپاره کاري فرصتونه

۱: په خصوصي او دولتي ښوونځيو کې د کمپيوټر استاد په توګه؛

۲: په خصوصي او دولتي پوهنتونونو کې د علمي کادر غړي په په توګه؛

۳: د معلوماتو د داخلولو کارکوونکي په توګه؛

۴: د معلوماتي ټکنالوژۍ د تخنيکي کارکوونکي په توګه؛

۵: د کمپيوټري پروګرامونو د ملاتړ کوونکي په توګه؛

۶: د وېب‌پاڼو ډيزاينر په توګه؛

۷: د معلوماتي ټکنالوژۍ مدير په توګه.

## پایله

د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي دا لارښود د پوهنځي د علمي، تحصیلي او اداري جوړښت د منظمې پېژندنې او اړوندو معلوماتو د وړاندې کولو په موخه ترتیب شوی دی. په دې لارښود کې د پوهنځي د رئیس پیغام، سریزه، مخینه، لیدلوری، ماموریت، ارزښتونه، ستراتیژیکې موخې، تشکیلاتي جوړښت، علمي کادر، محصلانو احصائیه، د استاد او محصل نسبت، کمېټې، زیربناوې او د پوهنځي بېلابېلې علمي څانګې معرفي شوې دي.
دغه لارښود د پوهنځي د اوسني علمي او تحصیلي وضعیت یو لنډ او منظم انځور وړاندې کوي او لوستونکو ته دا زمینه برابروي چې د پوهنځي د جوړښت، تحصیلي پروګرامونو، علمي ظرفیتونو او فعالیتونو په اړه اړین معلومات په یوه واحده مرجع کې ترلاسه کړي. همدارنګه، د څانګو د تشکیلاتي جوړښتونو وړاندې کول د پوهنځي د بېلابېلو علمي برخو د پېژندنې او د هغوی د فعالیتونو د روښانه کېدو لپاره مهمه برخه جوړوي.
د ښوونې او روزنې پوهنځی د معیاري ښوونې، علمي څېړنې، مسلکي ظرفیت لوړونې او د نوې تعلیمي ټکنالوژۍ د اغېزمنې کارونې له لارې هڅه کوي چې د هېواد د ښوونې او روزنې د نظام لپاره وړ، مسلکي او ژمن کادرونه وروزي. د دې موخې د تحقق لپاره د استادانو علمي هڅې، د محصلانو زیار، د اداري کارکوونکو همکاري او د پوهنتون د رهبرۍ ملاتړ اساسي ارزښت لري.
تمه ده چې دا لارښود د محصلانو، استادانو، څېړونکو، علمي او اداري کارکوونکو او نورو اړوندو مراجعینو لپاره د پوهنځي د پېژندنې یوه ګټوره او باوري مرجع وګرځي. همدارنګه، د وخت په تېرېدو او د پوهنځي په علمي، تحصیلي او اداري جوړښت کې د رامنځته کېدونکو بدلونونو سره سم به د دې لارښود معلومات وکتل شي، نوي او لا بشپړ شي.
په پای کې، د ښوونې او روزنې پوهنځی د علمي کیفیت د لا لوړولو، د څېړنې د فرهنګ د پیاوړتیا، د محصلانو د مسلکي وړتیاوو د پراختیا او له ټولنې سره د علمي اړیکو د پیاوړتیا په برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکوي او هڅه کوي چې د هېواد د علمي او ښوونیز پرمختګ په بهیر کې خپله اغېزمنه ونډه نوره هم پراخه کړي.

## عمومي انځورونه










## د لابراتوار انځورونه









## په تخنیکي ورکشاپ کې ترسره شویو پروژو انځورونه (۱)







## په تخنيکي ورکشاپ کې ترسره شويو پروژو انځورونه (۲)









Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Logar University

Faculty of Education

# CATALOGUE



Year: 1405 Solar Hijri / 1447–1448 AH